ICRC

PUBLIC RELATIONS UNIT
International Committee of the Red Cross
19, avenue de la Paix
1202 Geneva
Switzerland
Tel: +41 22 730 3443
press@icrc.org
www.icrc.org

# آی سي آر سي خبرپاڼه

۲۵ فبروري ۲۰۲۵

افغانستان : د آی سي آر سي عمومي رئیس د پراخو بشري اړتیاوو یادونه وکړه او د دوامداره نړیوال ملاتړ غوښتنه یې وکړه

کابل، افغانستان – د آی سي آر سي عمومي رئیس، ښاغلي پییر کراهنبل، افغانستان ته خپل اووه ورځنی سفر پای ته ورساوو. ددې سفر پر مهال، نوموړې په کابل کې له افغان چارواکو سره ولیدل، له ناروغانو او بشري مرستو له ترلاسه کوونکو سره خبرې وکړې، او د روان بشري بحران په اړه یې د آی سي آر سي د بشري فعالیتونو ارزونه وکړه. همدارنګه، نوموړي د افغاني سرې میاشتې ټولنې له مشرتابه، کارمندانو او خپلخوښو سره وکتل او په دې لیدنه کې د چین د سره صلیب اجراییوي مرستیال ښاغل وانګ هی هم ورسره مل وو، دواړو په هېواد کې پراخه بشري اړتیاوو ته د ځواب ورکولو په برخه کې د همغږي او ګډو هڅو پر اړتیا بحث وکړ. د خپل سفر پر مهال، ښاغلي کراهنبل د ناپلوي، ناپېیلې او خپلواکو بشري مرستو لپاره د خوندي چاپیریال پر اهمیت ټینګار وکړ، ترڅو د خلکو اړتیاوو ته رسیدګي وشي. نوموړي د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ له شرکاوو ، په تېره له افغاني سرې میاشتې ټولنې سره په افغانستان کې د خپل بشري کار د دوام ژمنه هم تکرار کړه.

ښاغلي پییر کراهنبل وایي : « په افغانستان کې بشري حالت خورا خراب دی. میلیونونه خلک بشري مرستو ته اړتیا لري. دا د څلورو لسیزو جګړو پایله ده چې تقریباً هره افغانه کورنۍ یې اغیزمنه کړې ده. ما د آی سي آر سي د فزیکي بیارغوونې په مرکز کې له ناروغانو سره وکتل او دا مې ولیدل چې زموږ د همکارانو کار څومره ارزښتمن او ژوند بدلوونکی دی، د بېلګې په توګه کله چې دوی ماین ځپلو کسانو ته مصنوعي پښې او لاسونه جوړي او هغوی سره د بیا ګرځېدو په برخه کې مرسته کوي. »

آی سي آر سي په افغانستان کې له ۴۰ کلونو راهیسې کار کوي چې د وسله والو جګړو اغیزمنو کسانو ته بشري مرستې چمتو کوي، چې د بسټېزو خدمتونو ته د نه لاسرسي ، اقلیمي خطرونو او د اقتصادي ستونزو په څېر له پرله پسې ننګونو سره هم مبارزه کوي.

په ۲۰۲۴ ام کال کې په افغانستان کې د آی سي آر سي د کار د لا زیاتو معلوماتو لپاره دا لینک وګورئ : *operational facts and figures*.

ښاغلي کراهنبل زیاته کړه : « دا مهمه ده چې بشري سازمانونه په ناپلوي، ناپېیلي او خپلواکه توګه له ټولنو سره مرسته وکړي. د آی سي آر سي لومړیتوب دا دی چې خپلې بشري کار دوامداره وساتي او تر ټولو زیانمنو کسانو، لکه معلولینو، بندیانو او د وسله والو جګړو قربانیانو ملاتړ ته دوام ورکړي، خو موږ او زموږ نور نړیوال همکاران داسې یوې فضا ته اړتیا لرو چې خپل کار په اصولي توګه ترسره کړو. موږ باید وتوانېږو چې په داسې یوه طریقه د اړمنو ملاتړ وکړو چې ټولشموله وي او د هر چا لپاره بشري خدمتونو، په تېره بیا په روغتیایي سکتور کې لاسرسی پیاوړی کړي. »آی سي آرسي له افغان چارواکو سره خپلو اړیکو ته دوام ورکوي ترڅو دا ډاډ ترلاسه کړي چې د بشري اصولو پلي کیدل یقیني کړي. دا خبرې اترې مهمې دي چې د هېواد په کچه ټولنو ته د خوندي او اغېزمنو مرستو د رسولو لپاره لاره چاره هواره شي.

د لا ډېرو معلوماتو لپاره له لاندې کسانو سره په اړیکه کې شئ:

**پرویز احمد فیضي ، آی سي آر سي کابل، pfaizi@icrc.org ټیلفون 672 110 729 93+**

**اشلی دسپریس، آی سي آر سي کابل، [adespres@icrc.org](mailto:adespres@icrc.org)** ټیلفون : **+41 786 335 235**

زموږ ویبپاڼه وګورئ : **[www.icrc.org](http://www.icrc.org)**

**.د خپرونې په کیفیت برابر د آی سي آر سي د وروستیو ویډیوګانو د لیدو او ډانلوډ لپاره لاندې لینک وګورئ**

**[www.icrcvideonewsroom.org](http://www.icrcvideonewsroom.org)**

.آی سي آر سي په **facebook.com/ICRCaf** او **[x.com/ICRC_af](https://x.com/ICRC_af)** کې هم تعقیب کړئ

د سره صليب نړيوالې کمېټې (آی سي آر سي) په اړه : د سره صليب نړيواله کمېټه (آی سي آر سي) يو ناپلوې، ناپېيلې او خپلواک سازمان دی چې د وسله والو جګړو او نورو تاوتريخوالي حالتونو له کبله له اغېزمن شويو کسانو ته بشري مرسته او خونديتوب چمتو کوي. آی سي آر سي په ټوله نړۍ کې کار کوي ترڅو له اړمنو ټولنو ملاتړ وکړي، په ځانګړې ډول د روغتيا پاملرنې، اوبو، خوراکي مرسته او د نړيوال بشرپاله حقوقو له مخې د ملکي خلکو خونديتوب ډاډمنوي. آی سي آر سي له تېرو ۴۰ کلونو راهيسې په افغانستان کې کار کوي، چې په ۱۹۸۷ کې يې په کابل خپله استازولي پرانسته. آی سي آر سي په درست افغانستان کې له ټولنو څخه د ملاتړ په موخه خپلو چارو ته دوام ورکړی، ۱۹۰۰ کارمندان لري، چې زياتره يې افغانان دي، او د هيواد په بيلابيلو سيمو کې بشري مرستې چمتو کوي، چې په ميمنه، خوست، کندز، لښکرګاه، ګلبهار، فيض آباد، جلال آباد، مزار شريف، کندهار، هرات او کابل کې موجود د فزيکي بيارغوونې په اوو مرکزونو او دفترونو کې مختلفې بشري مرستې چمتو کوي. يوازې په تېر کال کې آی سي آر سي دا لاندې فعاليتونه ترسره کړي دي:

- پر نورو شيانو سربېره د افغاني سرې مياشتې ټولنې له ۴۷ لومړنيو روغتيايي مرکزونو سره يې د طبي وسايلو، درملو، ميزونو او چوکيو په ګډون مرسته وکړه.
- تر ۹۵۰،۰۰۰ ډېرو ناروغانو (۶۵سلنه ښځې او ماشومان وو) په دې مرکزونو کې لومړنۍ روغتيايي پاملرنه ترلاسه کړې.
- د آی سي آر سي په ملاتړ کېدونکو د فزيکي بيارغونې په ۷ مرکزونو کې تر ۲۰۰،۰۰۰ ډېرو ناروغانو (چې ۳۵سلنه ميرمنې او انجونې دي) ته د فزيکي بيارغوونې خدمتونه چمتو کړي. تر ۳۰،۰۰۰ ډېر پروستيز او اورتز (مصنوعي پښې لاسونه) توليد شوي او ۳۲۵،۰۰ د فزيوتراپي درملنې ترسره شوي دي. په ټول هيواد کې له توقيف ځايونو څخه ۶۶ ليدنې ترسره شوي.
- په نږدې ۴۵۰۰۰ اړمنو او تر ۳۰۰۰ ډېرو هغو کسانو ته نغدي مرستې وويشل شوې چې د تاوتريخوالي او ماينونو له لامله اغېزمن شوي دي. شاوخوا ۵۰،۰۰۰ کروندګرو نغدې مرستې تر لاسه کړې تر څو تخمونه، سره او وسايل پرې واخلي چې په کرنيزو توليداتو کې يې ښه والی راشي.
- د ۱۶ ټولنيزو پروژو له لارې، لکه د اوبو لګولو سيستمونو ترميم، د سيلاب ضد ديوالونو جوړول او کانالونه پاکول، له ۲۷,۰۰۰ څخه زيات کسانو ته د کار او عايد فرصتونه برابر شول .
- د زيربناوو د بيارغوونې او دوامداره بريښنا رسولو له لارې يې په ښاري سيمو کې ۱،۱۲۰،۰۰۰ ډېرو کسانو ته ې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی ښه کړی دی. د ۱،۳۱۵ ترميم شوي لاسي پمپونو په پايله کې تر ۲۷۵،۰۰۰ ډېرو خلکو په کليوالو سيمو کې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی موندلی.
- د افغاني سرې مياشتې ټولنې خپلخوښې يا رضاکاران روزل شوي ترڅو په ۵ وسلو ککړو سيمو کې ۲۴۳،۰۰۰ خلکو ته (۱۴۹،۰۰۰ ماشومان، ۴۶،۰۰۰ نارينه او ۴۸،۰۰۰ ښځې وې) ته د خطر په اړه پوهاوی او د خوندي چلند ناستې چمتو کړې دي.

په ۲۰۲۴ ام کال کې په افغانستان کې د آی سي آر سي د کار په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره زموږ د عملياتي حقايق او شمېرې په اړه لاندې لينک وګورئ.

[operational facts and figures]

په لاندې لاندې لينک کې په افغانستان کې زموږ د کار په اړه لا ډېر جزييات وګورئ :

[ICRC in Afghanistan – Summary | International Committee of the Red Cross]